# مطبوعاتي اعلاميه

## د خلکو حکومت یا د ښځو د ټولنو حکومت!؟

د ۲۰۲۰م کال د مې میاشتې په دویمه د رسمي جریدې له خوا د ۲۰۸مې شمېرې د فرمان له خپرېدو وروسته د ګرځبندیز د اصولو د معیارونو په اړه په لسم څپرکي کې راغلي وو: «لاندې کسان د ګرځبندیز تر معیارونو لاندې دي... ـ حامله مېرمنې او هغه میندې چې ماشومان یې تر ۱۵ کلونو ټیټ عمر ولري...» لومړي وزیر د ۲۰۲۰م کال، د مې په درېیمه یو بیان خپور کړ چې پکې ویل شوي وو، د متن په وروستۍ مسوده کې د هغه څه برعکس چې د وزیرانو شورا کې تصویب شوي وو، یوه تېروتنه شوې ده، چې د فرمان په تعدیل سره به اصلاح شي او د تونس جمهوریت په رسمي جریده کې به بیا خپره شي.

له دې امله د ۲۰۲۰م کال د مې په درېیمه د ۲۵۷مې شمېرې فرمان د ۲۰۸مې شمېرې فرمان د هدفمند بندیز تدابیر تنظیم شول چې په لفظي ډول پکې ویل شوي وو: «لومړی څپرکی ـ د لومړي پراګراف د دویمې مادې احکام په ۱۰م څپرکي کې د ۲۰۲۰م کال د ګرځبندیز د تدبیرونو په اړه ۲۰۸م فرمان لغو شوی او په لاندې توګه یې جبران کړی

دی: ۱۰م څپرکی: لومړی پراګراف ـ دویمه ماده (نوې): حامله مېرمنې دویم څپرکی ـ د ۲۰۲۰م کال د ټاکل شوي ګرځبنديز په تنظيم پورې اړوند تدابير د ۲۰۲۰م کال د ۲۰۸مې شمېر فرمان د په ۱۰م څپرکي کې اضافه شي، تر څو په لاندې ډول بيان شي: ۱۰م څپرکی (وروستی پراګراف) د ۱۵ کلونو ټيټ عمر لرونکي ماشومان بايد د ګرځبنديز اصول او قوانين په پام کې ونيسي.»

**موږ، حزب التحرير ـ ولايه تونس د ښځو برخه،**

ـ موږ د کار له پيل څخه د حکومت له خوا د هغو ميندو د معافولو غندنه کوو، چې له ۱۵ کلونو څخه پر ټيټ عمر لرونکو ماشومانو پاملرنه کوي، په ځانګړې توګه د ماشومانو پر مخ د ښوونځيو، وړکتونونو او نرسريو تړل، د هغوی د ساتنې او امنيت پر ارزښت سترګې پټول دي .

ـ موږ د حکومت کمزوري لاسونه، ماتېدونکي او غير مسوولانه دريځونه، د ماشومانو خونديتوب له پامه غورځول او د بهرنيو ملاتړ لرونکو مېرمنو سازمانونو د «مساوات» تر مفهوم لاندې د دوی د ناکامۍ غندنه کوو، چې يوازې د غربې مفهومونو او د هغوی احکام چې د اسلام، ميندو او حتی ماشومانو د ګټو په سپمولو سره يې د پلي کولو ليوالتيا لري.

ـ موږ وينو، چې وژونکي کرونا ويروس د جنايتکار سيکولر رژيم مېرمنې سره جلا نه کړې او ناحقه قوانينو او ژوند کولو ته ادامه ورکوي، دا د شواهدو په وسيله ثابته شوه، چې دوی د حکومت اقدامات په پام کې نيسي. مګر د مشکوکو مېرمنو خوځښتونه، د مېرمنو شرايط چې د امت او اسلامي کورنۍ ژوند د مفاهيمو او دودونو پر اساس دي ګډوډ کړي دي .

ـ موږ اعلان کوو چې موږ د ښځو په توګه له داسې ډلو څخه بل څه نه شو تر لاسه کولای، مګر دا چې د مېرمنو له فطرت سره ټکر ولري او د دوی لومړنۍ اړتياوو ته غبرګون وښيي، چې د کافر غرب د نظرونو او مفکورو له مخې غواړي هر څه له منځه يوسي ښايي له اسلام سره تړاو ولري .

ـ موږ هغه څه چې فيمينسټان او سيکولر رژيمونه يې ملاتړ کوي، وينو چې له خرافاتو پرته بل څه نه دي، بهرني سازمانونه ښځې له خپل اصل او کورنۍ څخه جلا کوي، چې د يرغل د ټولو هڅو لپاره يو نه رغېدونکی بند پاتې شوی دی .

ـ موږ پر حکومت غږ کوو، چې د هر ډول ژونديو ټولنو مخنيوی وکړي چې غربي ټولنې رامنځ ته کوي، د مشکوکو ډلو فشارونو ته د رسېدلو جرآت ولري چې له اسلام څخه له سرغړونې پرته بل هېڅ هدف نه لري .

ـ موږ پر حکومت غږ کوو چې د مېرمنو او ماشومانو موضوعاتو ته د داسې اقداماتو له امله چې ښځې او د هغوی ماشومان د مرگ سره لاس او گرېوان کوي او د ښځو د کورنيو له مسوولیت سره سم نه وي ځواب ووايي، ښځې دې کړاو ته نه اړ کوي او همدا راز يې د خپلې کورنۍ د مور او سرپرست په توگه له هغوی څخه نه لرې کوي .

**استاده حنان خمري**

**د حزب التحرير۔ ولايه تونس د ښځو برخې رسمي ويانده**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د رمضان ۱۱مه**

**۲۰۲۰م کال، د مې ۴مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۱/۳۳**